Page#1 پنځم لیکچر نیټه: 07/07/23

← نثر څه ته وائي

← د زوړ او لوی نثر خصوصیات

← پښتو نثر څه ته وائي

← ډرامه، تنقید، رپوتاژ، ناول

← نثر څه ته وائي؟

• def: نثر هغه کلام ته وائي، چې د وزن د قید نه آزاد وي.

• هغه کلام چې د نظم ضد وي یعنې الټا هغې ته وئیلې شي نثر.

← په پښتو ادب کښې د نثر ابتدا، څنګه شوې ده؟
د هر یو ادب ابتداء کیږي د شعر نه، د هغې نه پس بیا راځي نثر

← په 139 هجري کښې امیر کروړ د پښتو اول شعر وئیلی وو. د هغې نه ډیر وخت پس شعر (نثر) نه وو.

← په پښتو کښې اولنی د نثر کتاب په 223 هجري کښې لیکلی شوی وو. کله چې د پښتو د نثر کتاب ولیکلی شو نو نثر عام شو ډیر کتابونه ولیکلی شو.

← د ورمبي کتاب نه واخله تر اوسه پورې چې کوم ارتقاء شوې ده هغه مونږه په څلور ټوټو (دور) ← Periods کښې تقسیم کړو.

تاریخ: ___/___/___

اولنی دور:

ځ پښتو د نثر ارتقاء اولنی دور د 900-223 هجری پوری دی. زمونږه سره په ولسي دور کښې چې کوم کتابونه لیکالي شوي وو د هغې باره کښې مونږ ته معلومات نه وو. بیا یو کتاب ولیکالي شو "پټه خزانه" چې هغې مونږ له پوټ معلومات راکړه. د کتاب محمد هوتک لیکلي دي.

★ (کتابونه او لیکوال ← ځایه په هر دور کښې لیکو MCQs دپاره اهم دي.)

Imp for MCQs & Questions

← ځ پټې خزانې مطابق د پښتو اولنې کتاب دي "ځ سالو وږمه"
دا کتاب محمد ہاشم سروانی لیکالي دي.
دا کتاب په 223 ہجری کښې لیکالي شوی دي.

← ځ پټې خزانې مطابق دوئم کتاب تزکرة الاولیاء دي. دا کتاب سلیمان ماکو لیکالي دي په 612 ہجری کښې لیکالي شوي دي.

← دریم کتاب دي "تاریخ سوری، دا کتاب محمد علی البستي لیکلي دي په 650 هجری کښې

تاریخ: ___/___/___

← وروستی کتاب دی "د لرغوني پښتانه" . د لرغوني مطلب دی پخواني . دا کتاب شیخ کټه متیزی په 750 هجری کښې.

← وروستی کتاب نوم دی "د شیخ ملي دفتر" . دا کتاب شیخ ملي لیکلي دی په 830 هجري کښې لیکلې شوی دی

← د اولنی دور آخری کتاب "تاریخ خان کجو" دی . دا کتاب خان کجو په 900 هجري کښې لیکلی دی . اولنی دور ختم شو.

← د پښتو د نثر ارتقاء دوئم دور : 900-1100 هجری
په دوئم دور کښې دوه کتابونه او دغې لیکوالان ډیر زیات اهم دي.

← اول لیکوال دی "پیر روښان" . خپل نوم ئې بایزید انصاري دی . او د کتاب نوم ئې دی "خیرالبیان"

← دوئم کتاب اخون درویزه لیکلی دی . د کتاب نوم ئې "مخزن الاسلام" دی.

← د دوئم دور یو څو خصوصیات دي :

• اخلاقی موضوعات د پښتو ادب ته راردننه شول.

تاریخ: __/__/__

تصوف ، روحانیت

- په تاریخ باندې کتابونه ولیکل شو.
- د فارسي الفاظ پښتو ته شامل شول.
- ډیرې ژباړنې وشوې.

← د پښتو د نثر ارتقاء دریم دور: 1100-1300 هجري

د پښتو د نثر ارتقاء دریم دور کښې 1100 نه واخله د 1300 هجري پورې دی.

← د دې دور کسان چې کوم ډیر Prominant دي. دغې کښې خوشحال خان خټک، عبدالقادر خټک، افضل خان خټک، محمد هوتک، پیر محمد کاکړ مشهور لیکوال وو.

← په دې دور کښې پښتو ادب ډیره ترقي وکړه. کله چې د مغلو د پښتنو سره جنګ شو نو ټوله فائده پښتو ادب ته ورسیده. کله چې د خوشحال خان خټک د مغلو سره دشمنې شوه نو خوشحال خان خټک ډیر ځایونو ته لاړو.

← پښتو کښې اولنۍ سفرنامه خوشحال خان خټک اولیکله "سوات نامه". Nationalism راغلو. د پښتو نثر آسان شو. د پښتو ژبه آسانه شوه، جملې وړې شوې، محاورې استعمال کړل شروع شو او د ګرامر استعمال هم شروع شو.

← د دریم دور خصوصیات:

په دې دور کښې د عربي الفاظ پښتو ته را دننه شول. د عربي او د فارسي د کتابونو پښتو ژبې ته ژباړنې وشوې.

← څلورم دور: 1300 نه تر دغه پورې

دې دوره ته د پښتو د نثر جدید دور هم ویلی شي. په دې دور کښې د پښتو ژبې د ترقي په اعتبار سره خپل عروج ته ورسېده. پښتو ژبه یو بین القوامي ژبه جوړه شوله. په پښتو ژبه کښې مذهبي کتابونه ولیکل شو، او د قرآن او حدیث ترجمې وشوې. د پښتو ورومبی افسانه، ډرامه او ناول ولیکلی شو.

د 223-900 پورې او د 900-1100 هجري پورې دې ته [illegible] ویلی شي. 1100 نه اوسه پورې ته ماډرن یا نوی دور ویلی

د زوړ نثر خصوصیات

1. په دې نثر کښې د نظم اثرات دي. د قافیې او ردیف استعمال پکښې وو.
2. د عربي او د فارسي استعمال: په زوړ دور کښې د عربي او د فارسي الفاظ ډېر استعمال شوي دي.
3. د علاقائي ژبې اثرات: چا چې به نثر لیکلو نو چې د کومې علاقې به وو، دغه ژبه به یې استعمال کوله.
4. اصلاحي رنګ: د دعوت، نېکۍ او د اصلاح خبرې به پکښې ډېرې وې.
5. خطیبانه انداز: چې خطاب پکښې وي

تاریخ: ___/___/___

← د نوي دور خصوصيات:

1- د نظم اثرات ختمېدل
2- د عربي او فارسي الفاظو استعمال کمېدل
3- د علاقائي لهجو اثرات کمېدل
4- د ګرامر استعمال شروع کېدل زيات شول
5- لغت نګاري: د ډکشنري لیکل او استعمال شروع شول

← په پښتو ادب کښې افسانه:

افسانه څه ته وائي؟

تعریف: افسانه لغت ادبي لیک ته وائي کوم چې په یوه ناسته کښې ختمیږي.

تعریف: افسانه د قیصې یو لنډ او مختصر شکل دی چې په فن او تکنیکي لحاظ سره پوره وي او مقصد یې د معاشرې اصلاح وي.

قسمونه: د افسانې درې قسمه دي.

1. واقعاتي افسانه: هغې افسانې ته وائي چې د یو خاص واقعې نه ګیر چاپیره تاویږي.
2. ماحولي افسانه: د ګیر چاپیره ماحول د چاپیرچل بیان پکښې شوی وي.
3. کرداري افسانه: کومه چې د یو خاص کردار نه ګیر چاپیره تاویږي.

تاریخ: ___/___/___

← په پښتو ادب کښې دافسانې تاریخ:

په پښتو ادب کښې دافسانې تاریخ په دوه حصو کښې مونږ تقسیم کوو.

① د آزادۍ نه مخکښې. 1947 پاکستان جوړیدو نه مخکښې

② د آزادۍ نه وروستو. 1947 پاکستان جوړیدو نه وروستو.

د آزادۍ نه مخکښې لیکوالان:

.1 سید راحت زاخیلي

مشهوره افسانه "کونډه جینۍ" 1917 کښې د پښتو وړمبۍ افسانه

.2 میاں آزاد گل: مشهوره افسانه "د مړي پیغام" ده

.3 ماسټر عبدالکریم: مشهوره افسانه "خولۍ گلونه"

.4 imp mcq. منشي احمد جان: مشهوره افسانه ئې ده "د قصه خوانۍ گپ"

← د آزادۍ نه پس افسانې:

.1 میر مهدي شاه مهدي: مشهور افسانه نگار. ځلور مشهورې افسانې دي.

① "ټیټ" (پښتو نه وائي / غیرت) ② نښتان

(په دې شعر کښې ډېره پښتو ده).

.2 اجمل ختک: مشهوره افسانه "دوه ځنډي" ده.

.3 قلندر مومند: مشهوره افسانه "د افسانو گجرې"

تاریخ: ___/___/___

← د پښتو درامه:

درامه څه ته وایې؟ د څه کار کولو سره سره دهغې نمائش کول.

د درامې فني خصوصیات څه څه دي؟

1. د زمان او د مکان وحدت: درامه په یو خاص ځائې کښې او په یو خاص وخت کښې ختمیږي.

2. د عمل وحدت: چې په درامه کښې کوم عمل کیږي. هغه به یو پورا عمل وي

3. د تاثر وحدت: چې درامه مونږ له کوم پیغام راکړه دهغې مرکزي خیال به یو وي.

← په پښتو ادب کښې درامه:

1. په پښتو کښې ومبړې درامه عبدالاکبرخان لیکلې په 1923 کښې، چې نوم ئې دی "دري یتیمان"

2. دویمه درامه حمزه بابا لیکلې ده. نوم ئې دی "زمیندار" چې په 1925 کښې لیکلې ده.

3. اسلم خټک په 1935 کښې درامه لیکلې نوم ئې دی "د وینو جام".

4. عبدالله جان اسیر 1935 کښې "درس عبرت" درامه لیکلې.

5. عبدالاکبرخان په 1945 کښې درامه لیکلې نوم ئې دی "جونګړه".

← 1936 کښې پېښور کښې ریډیو سټېشن کولاوشو. هغې

دپاره ریډیائي ډرامې لیکل شروع شو.

← په 1964 کښې PTV پاکستان ټیلي ویژن شروع شو هغې دپاره ډرامې لیکل شروع شول.

## ناول او د هغې ارتقاء:

ناول: ناول د داستان هغه جزیاتو او احساساتو ته وائي د کوم په اظهار چې ورسره د خلقو همدردي پیدا شي.

ناول او ډرامه کښې فرق: د ډرامې دپاره سټیج ضروري دي او د ناول دپاره نه دي.

← د ناول عناصر (7):

(i) قصه (ii) پلاټ (iii) کردارنګاري (iv) مکالمه
(v) ماحول (vi) جزبات نګاري (vii) بیان

Note *
په ناول او داستان کښې فرق: په داستان کښې پلاټ نه وي. د واقعاتو څه ترتیب پکښې نه وي.

(i) پلاټ: (Plot)

یو ناول داستان د ټول ژوند احاطه وي په دې کښې ډیر زیات واقعات وي. د انسان ټول ژوند پکښې بیان شوي وي، د دې ټولو واقعاتو ترتیب ورکولو ته پلاټ وائي. یو داسې ترتیب چې په هغې کښې Coherence وي

تاریخ: ___/___/___ د قیصې د شروع کیدو درې طریقې دي.

(ii) قیصه: ① ← قیصې اچانک شروع شي. یو لیکونکی دز وکړي سړي مرکه کړي بیا قیصه شروع شي.
② ← یا لیکښې اول د کردارونو بیان وي.
③ ← دریمه طریقه داده چې یو سړي مرکه کړي او بیا د اول سره نه قصه شروع شي.

(iii) بیان: د ناول د بیان کولو درې طریقې دي.
① هیرو او ایروئن یو بل ته خطونه لیکي، د خطونو په ذریعه بیان روان وي.
② دویمه طریقه چې یو ناول کښې یو سړي خپله قصه په خپله شروع کړي
③ دریمه طریقه داده چې دریم کس قصه شروع کړي

(iv) کردارونه: دوه قسمه دي.
① جامد کردارونه: هغه کردار چې مزاحیه وي یا باور چې وي د هغه په کردار کښې څه بدلون نه راځي.
② ارتقائي کردارونه: چې ناول شروع شي نو یو "بد کردار" وي بیا کښې سمې لارې ته را واوړي. دا ناول په شروع کښې بد سړی وي او په آخره کښې ښه سړی شي.

(v) مکالمه: (ډائیلاګ)
دا د ناول ځان دی، چې خلق ځان طرف ته متوجه کړي.

تاریخ: ___/___/___

(vi) منظر نګاري: (ماحول)
چا رچاپېره څه موسم دی څه حالات دي.

(vii) جزبات نګاري: چې کوم عمل کېږي هغه شان جزبات نګاري پکښې وي. د خوشحالۍ په موقع خوشحالي او خفګان په ماحول کښې خفګان.

## په پښتو ادب کښې ناول:

1. "نتيجه عشق" راحت زاخيلي ليکلې په 1912 کښې
2. "بې تربيته خوئي" نور محمد ترکۍ په 1939 کښې ليکلې.
3. "پېغله" صاحبزاده محمد ادريس په 1955 کښې
4. "نوې څپې" حمزه بابا په 1957 کښې ليکلې
5. سيد رسول رسا په 1963 کښې خلور ناول ليکلي
6. "ګل خان" ناول شېر زمان په 1967 کښې ليکلې
7. "نوې ګل" سحر افريدي په 1972 " "
(په کتاب کښې شته دي)

سفرنامه: سفرنامه دې ته وائي چې يو سړی چرته لاړ شي او دهغې ځائ حالات وليکي هم هغه شان ئې بيان کړي شنګه چې وي. هغې ته وائي سفرنامه

← په پښتو کښې اولنۍ سفرنامه د خوشحال خان خټک "سوات نامه" ده

تاریخ: ___/___/_____

رپورتاژ : چې کله یو سړی چیرته لاړ شي
او د هغې ځای حالات، رهن سهن، خوراک څښاک
ولیکي او ورسره خپله رائے هم ورکړي نو دې ته
Commentary is added also. - رپورتاژ ووایي